# شتمني SHTAMANI
اوونیزه
تأسیس: ۱۳۹۴ل ل
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**اسلام، هجرت او حج مخکيني ګناهونه ختموي**

ژباړه: حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه روايت کوي، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اسلام هغه ګناهونه له منځه وړي، چي تر هغه مخکي ول، د الله جل جلاله له پاره هجرت کول هغه ګناهونه له منځه وړي، چي تر هغه مخکي ول او حج کول هغه ګناهونه له منځه وړي، چي تر هغه مخکي ول. [ رواه مسلم]

**اسلام، هجرت و حج گناهان قبلی را معاف مینماید**

ترجمه: حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه روایت می‌کند که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمودند: اسلام گناهانی را معاف میکند که قبل از آن بود، هجرت کردن در راه خدا گناهانی را معاف میکند که از او پیش بود و حج کردن گناهانی را معاف میکند که قبلاً داشت. [ رواه مسلم]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


د محرم الحرام ۵ -۱٤٤٧ل س | د چنګاښ ۱۰ -۱٤۰۴ل ل | د جولای ۱-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱٤٤ ګڼه | ٤ مخيزه



## سرمقاله

### مالياتي عدالت؛ له شعاره تر عمله


د ماليې وزارت د يوه دولت جېب او د هر هيواد د اقتصاد زړه دئ. دا وزارت، چي په ټوله نړۍ کي د حکومتي بنسټونو له پياوړو ستنو څخه شمېرل کېږي، يوازي د ماليې راټولولو دنده نه لري؛ بلکي دا پيسې بايد په عادلانه توګه ووېشي او د ټولني د پرمختګ له پاره لاره هواره کړي؛ خو څنګه کولای سو مالياتي عدالت له يوه ښکلي شعار څخه په يوه پياوړي واقعيت بدل کړو؟ تصور وکړئ يو داسي مالياتي نظام، چي د عادل ترازو په څېر کار کوي، هر څوک له خپل توان سره سم ماليه ورکوي. ساده کارګر او لوی پانګوال دواړه خپله ونډه لري، خو فشار پر کمزورو اوږو نه اچول کېږي. هغه کسان چي کم عايد لري، د مرستو له لاري لکه کم سود پورونه يا مالياتي معافيتونه او فرصت ترلاسه کوي، چي خپل کوچني کاروبارونه پيل کړي. دا په دې معنا ده، چي هم دوی ته ګټه پاتي کېږي او هم د هيواد اقتصادي څرخ ګرځي. په افغانستان کي مالياتي عدالت کولای سي د تازه اکسيجن په څېر کار وکړي او ټولنه له کمزورتيا څخه پياوړتيا ته ورسوي. د ماليې وزارت کولای سي، چي د ساده خو ګټورو پروګرامونو په مرسته هم عدالت ټينګ کړي او هم هيواد جوړ کړي. ماليه د عايد پر بنسټ وي؛ څوک چي ډېر لري، ډېره ماليه ورکوي او څوک چي لږ لري لږه ماليه ورکوي، دا طريقه هم منصفانه ده او هم ټول هڅوي، چي ډېري هڅي وکړي؛ د بېلګي په توګه: يو پانګوال او يو بېوزله شخص دئ که لومړي ته د ودي او پانګوني اميد او دوهم ته مالي مرسته او زمينه برابره سي؛ نو دواړه به پانګونه وکړي، کار به پيل کړي او دواړه به لازم پرمختګ وکړي. په دې منځ کي اصلي بريالی څوک دی؟ هو، د ماليې وزارت، چي په هيواد کي ئې د پانګوني زمينه برابره کړې ده، ډېر خلک ئې د کار خاوندان کړل او هم ماليه ترلاسه کوي. دا وزارت، د حکومت د ملا تير په څېر دئ اوس مهال ماليه په عادلانه توګه راټولېږي او په کره لارو مصرفېږي. همدارنګه د ماليې ورزات کولای سي سړکونه جوړ کړي، روغتونونه پرانيزي او ښوونځي له زده‌کوونکو ډک کړي. ماليې وزارت ته پيسې له کومه راځي؟ له هغو کاروبارونو څخه چي وده ئې کړې ده او له هغو پانګوالو څخه چي ميدان ته راغلي دي. له نړيوالو بنسټونو سره همکاري هم د يوې لنډې لاري په څېر، موږ خپل هدف ته نيږدې کوي. مالياتي عدالت يو ناشونی خوب نه دی؛ يو ريښتيني هدف دئ، د ماليې وزارت کولای سي د روښو پاليسيو له لاري، هم کم عايد لرونکي کسان پورته کړي او هم پانګوال ميدان ته را جذب کړي. وخت رارسېدلی، چي ماليې وزارت له ټولو هغو کسانو څخه، چي اوس ئې پرمختګ کړی ماليه واخلي او له نويو تشبثاتو او کوچنيو پانګوالو سره مرسته وکړي؛ ترڅو هم د حکومت عايد لوړ سي او هم د هيواد بنسټ جوړ سي. راځئ يو ځای مالياتي عدالت له شعاره تر عمل پوري ورسوو او يوه داسي ټولنه جوړه کړو، چي هر څوک پکښې د برياليتوب چانس ولري!

**در نبت**
**اداره**

## د کورني صنعت د ودي په موخه د يو شمېر اقلامو د تعرفو په اړه مهمي پرېکړي وسوې

د تعرفې کمېټې د روان (۱۴۰۴هـ.ل) کال دريمه ناسته د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند په مشرۍ او د صنعت او سوداګرۍ؛ کرني اوبو لګولو او مالدارۍ؛ د کانونو او پيټروليم؛ اقتصاد او عامي روغتيا د وزيرانو، د رياست الوزراء د اقتصادي معاونيت د باصلاحيته استازي، د استخباراتو لوی رياست، سټنډرډ ملي ادارې، د کانونو او صنايعو، سوداګرۍ او پانګوني او د کرني او مالدارۍ خونو د رئيسانو په ګډون ترسره سوه. په دې ناسته کي له هر اړخيزو بحثونو وروسته، د کورني صنعت د ملاتړ، کرني او سوداګرۍ د ودي اصل ته په کتو لاندي پرېکړي وسوې، چي د تعرفې له اصولو سره سم به پلي سي.

| شمېره | د توکي نوم | د ګمرکي تعرفې مخکينۍ سلنه | اوسنۍ ټاکل سوې تعرفه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | ۵-۸ میلی ګول سيخ | ٪۱٦ | ٪۳۰ |
| ۲ | طبي پنبه | ٪۳،۵ | ٪۲۰ |
| ۳ | پيمپرز او کوټېکس | ٪۱۰ | ٪۲۰ |
| ٤ | فشاري رنګ | ٪۱٦ | په خپل حال |
| ۵ | پاپوش | چرمي ۱۰٪ پلاستيکي ۲۰٪ | چرمي ۲۰٪ پلاستيکي ۳۰٪ |



همداشان د ځنځير او ښيښه يي او چيني لوښو په تعرفوي کوډونو کي هم اړين اصلاحات رامنځته سول.

**د يادوني وړ ده**، چي د تعرفې کمېټې ناستي تر دې وړاندي د معينانو په کچه ترسره کېدې، چي د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) د ځانګړي هدايت پر بنسټ به له دې وروسته د يادي کمېټې د پرېکړو ارزښت ته په کتو د وزيرانو او د مستقلو ادارو د رئيسانو په کچه ترسره کېږي.

## د جوزا په مياشت کي د هيواد له ګمرکونو څخه (۱٦۵) ټانکره بې کيفيته نفتي مواد مسترد سوي دي

د ماليې وزارت د نفتي موادو د کيفيت او څارني رياست، چي د ټاکل سويو معيارونو له مخي هيواد ته د واردېدونکو نفتي موادو کيفيت معلوموي، د روان (۱۴۰۴ هـ.ل) کال د غبرګولي (جوزا) په مياشت کي ئې د هيواد له يو شمېر ګمرکونو څخه (۱٦۵) ټانکره واردېدونکي بې کيفيته نفتي مواد بيرته ګرځولي دي. د مسترد سويو نفتي موادو له ډلي (۴۷) ټانکره ډېزل د فراه له ګمرک څخه، (۱۱٦) ټانکره ډېزل او (۲) ټانکره پيټرول له نيمروز ګمرک څخه بيرته ګرځول سوي دي. د يادولو ده، چي د ماليې وزارت د نفتي موادو د کيفيت او څارني رياست د ټاکل سويو معتبرو معيارونو له مخي، هيواد ته د لوړ کيفيت او معياري نفتي موادو د را واردولو زمينه برابروي او د بې کيفيته نفتي موادو له واردولو څخه په کلکه مخنيوی کوي.



## د افغانستان د مسلکي محاسبينو ادارې خبرتيا!

د بهرنۍ پلټني ټولو هغو شرکتونو ته، چي د ماليې وزارت د خزاينو لوی رياست اړوند د افغانستان د مسلکي محاسبينو له ادارې (CPA) څخه ئې جواز نه وي تر لاسه کړی، خبر ورکول کېږي، چي ژر تر ژره خپل شرکتونه ثبت او فعاليتونو ته ئې رسمي بڼه ورکړي. د بهرنۍ پلټني هغه شمېر شرکتونه، چي د افغانستان د مسلکي محاسبينو ادارې (CPA) څخه ئې جواز نه وي ترلاسه کړی د فعاليت حق نه لري، چي د سرغړوني په صورت کي به له قانوني چلند سره مخ او فعاليتونه به ئې ودرول سي. د يادوني وړ ده، چي د افغانستان د مسلکي محاسبينو ادارې د خپل فعاليت له پيل څخه تر دې دمه د بهرنۍ پلټني (۱۷) شرکتونو او د مسلکي زده کړو (٦) ښوونيزو بنسټونو ته د فعاليت جوازونه وېشلي دي، چي دا چاره د رڼې مالي پلټني، مالي روڼتيا رامنځته کولو، د فساد د مخنيوي او ملي عوايدو له تېښتي څخه د مخنيوي او د مسلکي محاسبې د منل سويو معيارونو د تطبيق په برخو کي مثبتي پايلي لري.





د ګمرکونو او عوايدو معين د سرحدي پوليسو له لوی رئيس سره وکتل

م ۲




د کورنۍ پلټني لوی رئيس او ورسره مل پلاوي د هيواد ختيځو ولايتونو ته سفر وکړ

م ۲




د ماليې وزارت د شکايتونو اورېدو آمريت (۲۵) شکايتونو ته رسېدنه کړې

م ۲




د اسلام کلا په ګمرک کي د (۱۴،۲) ټنه ممنوعه درملو د قاچاق مخه ونيول سوه

م ۲



د مالي او پولي سياستونو تر منځ اړيکه

م ۳



افغانستان په (۱۳۰) برخو کي د بشپړي ځانبسياينې اعلان وکړ او لا هم د نورو پرمختګونو په تلاش کي دئ

م ٤

SHTAMANI
اوونیزه

# د ګمرکونو او عوایدو معین د سرحدي پولیسو له لوی رئیس سره وکتل

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید د کورنیو چارو وزارت د سرحدي پولیسو له لوی رئیس الحاج مولوي حزب الله افغان سره وکتل.



په دې کتنه کې، چې د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مولوي محمد حامد احمد هم شتون درلود، دواړو لوریو د هیواد په سرحدونو کې مسافرینو ته د لازمو اسانتیاوو پر رامنځته کولو، د قاچاقي توکو پر مخنیوي، په یادو برخو کې د لازمي همغږۍ او همکارۍ پر رامنځته کولو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو خبري وکړې.

## د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د همغږۍ ناسته وسوه

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د (۱۴۰۴هـ.ل) کال د همغږۍ دریمه ناسته د یاد معینیت د غونډو په تالار کې وسوه.

په دې ناسته کې، چې د اړوندو ریاستونو مسئولینو ګډون کړی وو، په پیل کې د ګمرکونو او عوایدو معین خبري وکړې او وئې ویل، چې د همغږۍ ناستې پرېکړې باید پر خپل وخت سره پلي سي او پایلې ئې هم د ناستې له ګډونوالو سره شریکې سي.

ور پسې د تېرې ناستې د پرېکړو په اړه بحث او خبري وسوې او د ټاکل سویو پلاوو راپورنه واورېدل سول.

همدارنګه په دې ناسته کې په ګمرکونو کې د کارکوونکو له لوري د اسیکوډا په سیستم کې د جوړو سویو یوزرونو په کارولو، د خامو نفتو د وارداتو په برخه کې پر سته ستونزو او حل لارو، د سوداګریزو شرکتو او صنعتي فابریکو د مالیاتو د تصفیې او ګمرکي دَین په برخه کې د ګمرکونو او عوایدو لویو ریاستونو تر منځ د هغمږۍ پر زیاتوالي او یو شمېر نورو اړینو موضوعاتو په تړاو بحث او لازمي پرېکړې وسوې.

د یادوني وړ ده، چې د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ دغه ناستې د ګډو همکاریو د پیاوړتیا په موخه جوړېږي، چې په راتلونکي کې به هم دوام وکړي.



## د کورنۍ پلټني لوی رئیس او ورسره مل پلاوي د هیواد ختیځو ولایتونو ته سفر وکړ

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رئیس ښاغلي الحاج ملا عبدالهادي ابرار په مشرۍ پلاوي د چارو د هر اړخیزي ارزوني په موخه د ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولایتونو مستوفیتونو او همدارنګه د ننګرهار او کونړ ولایتونو له ګمرکونو څخه په جلا جلا توګه لیدنه وکړه.




یاد پلاوي د خپل سفر په ترځ کې د پلټونکو له لوري د پخوانیو پلټنو په لړ کې د ورکړل سویو اصلاحي سپارښتنو د تطبیق څرنګوالی تعقیب کړ، چي له نېکه مرغه یادو ادارو ډېری سپارښتني تطبیق کړي وې، بلخوا د کورنۍ پلټني لوی رئیس د ادارو له مسئولینو وغوښتل، چې د پاتي سپارښتنو تطبیق ته جدي پاملرنه وکړي او د پرمختګ راپور ئې د کورنۍ پلټني له لوی ریاست سره شریک کړي.

د کورنۍ پلټني لوی رئیس او ورسره مل پلاوي د یادو ادارو د هر آمریت او مدیریت د چارو ارزونه وکړه او له مسئولینو سره ئې د پلټني موندني شریکي کړې؛ ترڅو ئې په اړه لازم اجراآت ترسره سي.

د کورنۍ پلټني لوی رئیس د لغمان ولایت له مستوفي سره د لیدني سربېره، د دغه ولایت له والي ښاغلي شیخ شیر احمد حقاني سره په ولایتي کچه د بودیجې د اغېزمنې کاروني او په رڼه او شفافه توګه د ملي عوایدو د راټولولو په برخو کې د اړوندو ولایتي ادارو ترمنځ د لا ښې همغږۍ او همکارۍ په اړه هم خبري وکړې.

د کورنۍ پلټني لوی رئیس د یادو ادارو د مسئولینو ستونزي او غوښتني واورېدې او ژمنه ئې وکړه، چې د اصولي حل په موخه به ئې د وزارت له مشرتابه سره شریکي کړي.

## د مالیې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (۲۵) شکایتونو ته رسېدنه کړې

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی ریاست د شکایتونو اورېدو آمریت د دغه وزارت اړوند ټولو شکایتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډوني او د یو شمېر مسئولینو ناسم چلند ته د رسېدني مسئولیت پر غاړه لري او ترلاسه سویو شکایتونو ته له ځنډ پرته رسېدنه کوي.

دغه آمریت د روان (۱۴۰۴) کال غبرګولي (جوزا) میاشتي له پیل څخه د دغي میاشتي تر پایه پوري په ټوله کي (۲۵) شکایتونه ترلاسه کړي او اورېدلي دي، چې له دې ډلي څخه (۲۰) شکایتونو ته رسېدنه سوې، (۲) تر کار لاندي دي او (۳) نور شکایتونه د کافي معلوماتو او شکایت کوونکو له لوري د اثباتیه اسنادو د نشتون له امله د دغي اداري لخوا بې بنسته ګڼل سوي دي.




له دې ډلي (۱۸) شکایتونه د وټس اپ له لاري، (۲) د ټیلیفون له لاري او (۵) شکایتونه په حضوري بڼه له دې آمریت سره شریک سوي دي، چې یاد شکایتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې برخو کې ول، چې د دغه آمریت له لوري پر وخت رسېدنه ورته سوې ده.


د یادوني وړ ده، چې ټول هیوادوال کولای سي، چې د مالیې وزارت د بېلابېلو څانګو په څانګړې توګه د عوایدي سرچینو او د ګومارني په برخه کي د اصلاحاتو په تړاو خپل شکایتونه، وړاندیزونه او نظریات د برېښنالیک، وټس اپ، ټیلیفون، په حضوري بڼه او د شکایتونو د صندوق له لاري له دغه آمریت سره شریک کړي، چې د شکایتونو د اورېدو آمریت به له طبقه بندۍ وروسته دغو شکایتونو ته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰

وټس اپ نمبر: ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶

برېښنالیک: Officialcomplaints@mof.gov.af

## د اسلام کلا په ګمرک کي د (۱۴،۲) ټنه ممنوعه درملو د قاچاق مخه ونیول سوه




د هرات ولایت د اسلام کلا سرحدي ګمرک څېړکو کارکوونکو په یوه وارداتي محموله کي (۴۱۰۷) کارټنه د میتاډون په نوم ممنوعه درمل، چې ټولیز وزن ئې (۱۴،۲) ټنه کېږي کشف او ونیول.

یاد ممنوعه درمل په یوه وارداتي سوداګریزه محموله کي، چې مکروني پکښې بار ول، په ډېر مهارت سره ځای پر ځای سوي ول او قاچاق کوونکو غوښتل، چې په قاچاقي ډول ئې افغانستان ته راوړي.

د یادوني وړ ده، چې په دې تور دوه کسان نیول سوي او د نورو اجراآتو له پاره اړوندو امنیتي ارګانونو ته سپارل سوي دي.

## د ګمرکونو لوی ریاست په اداري ناسته کي پر یو شمېر مهمو موضوعاتو بحث او خبري وسوې



د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د (۱۴۰۴هـ.ل) کال څلورمه اداري ناسته د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د یاد ریاست په مقام کي جوړه سوه.

په دې ناسته کي د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر آمرینو هم ګډون کړی وو.

له اجنډا سره سم په دې ناسته کي د صادراتي، وارداتي او ترانزیټي توکو په ګمرکي طی مراحلو کي پر سته ستونزو او حللارو، د یو شمېر سوداګریزو شرکتونو او صنعتکارانو د غوښتنو او ستونزو پر حللو، د یاد ریاست د مرکزي او ولایتي ادارو د ورځنیو چارو پر لا ښه والي او یو شمېر نورو موضوعاتو خبري وسوې او په اړه ئې لازم تصمیمونه ونیول سول.

## برنامه آموزشی امورات مالی برای کارمندان ریاست های عمومی بودجه، خزاین، تفتیش و مالی و اداری دایر گردید

ریاست امور کارکنان وزارت مالیه برنامه آموزشی را تحت عنوان "امورات مالی" برای کارمندان ریاست های عمومی بودجه، خزاین، تفتیش و مالی و اداری طی مراسمی در سالون کنفرانس خیبر دایر نمود.

در این مراسم مولوی دوست محمد مخلص، معین اداری، محمد نادر همایون، آمر آموزش و ارتقای ظرفیت ریاست امور کارکنان، مولوی وصیف احمد احمدی، کفیل ریاست دعوت و ارشاد و شماری از کارمندان ریاست های عمومی متذکره حضور داشتند.



آمر آموزش و ارتقای ظرفیت در سخنان افتتاحیه این برنامه گفت، وزارت مالیه یک وزارت مسلکی بوده و برای ارتقای ظرفیت مسلکی کارمندان خویش چنین برنامه های را راه اندازی می کند. هدف از برنامه امروز، بهبود امور مالی، تأمین شفافیت در امور مالی و گزارشدهی دقیق از امورات مالی می باشد.

معین اداری طی سخنان خود گفت، هر قدر توانایی و ظرفیت مسلکی خود را افزایش دهید، به همان اندازه کار ها را به صورت اصولی و دقیق اجرا می کنید، از این به بعد فرصت بدست آمده برای شکوفایی استعداد های خود و اجراآت اصولی استفاده کنید.

کفیل ریاست دعوت و ارشاد در سخنان خود به اشتراک کنندگان توصیه نمود تا در کنار یادگیری دروس مسلکی، به حقوق دیگران احترام گذاشته؛ عدل و انصاف را در کار ها مراعات نمایند، به وظایف پابند بوده و از ضیاع وقت جلوگیری کنند.

گفتنی است که این برنامه به مدت (۱۰) روز ادامه داشته و در آن امورات بودجه، تحصیصات، تأدیات بودجه عادی و انکشافی، سیستم های بانکی سازی معاشات، محصول پیشکی، باقیات، جریان عواید، قطعیه و دیگر موضوعات مهم و مرتبط برای اشتراک کنندگان تشریح می گردد.

SHTAMANI
اوونیزه

# د مالي او پولي سیاستونو تر منځ اړیکه

لیکوال: استاد عبدالجبار وحدت
د ملي بودیجې لوی رئیس

مـالي او پـولي پالیـسي هغـه دوې مهمـې او اسـاسي تـګلارې دي، چـې حکومتونـه ئـې د مـلي اقتصـاد د مدیریـت او اغېزمنولـو لـه پـاره کاروي پـه دې اړه متفـاوت نظریـات شـتون لـري؛ د بېلګـې پـه ډول د کینـز مکتـب وایـي، چـې مـالي سیاسـت د اقتصـادي ودې لـه پـاره نسـبتاً پـولي سیاسـت تـه ډېـر مؤثـر دئ، پـه ځانګـړي ډول د اقتصـادي رکـود پـه حالـت کـې او پـولي سیاسـت تـه د دوهمـې ارزښـت پـه توګـه قایـل دئ. مګـر د مونیټریسـټ مکتـب بیـا د پـولي سیاسـت ارزښـت مهـم او لـوړ بـولي او د پیسـو عرضـه د اقتصـادي ثبـات لـه پـاره مهمـه بـولي او د مـالي سیاسـت مؤثریـت تـه ډېـر قایـل نـه دئ.
او نیوکلاسـیک مکتـب بیـا ډېـر ښـه عقـلاني او معتـدل نظـر لـري وایـي، چـې دواړه سیاسـتونه بایـد محتاطانـه او لـه مخکـې پېشـبیني سـوې وي او کـه پـه معقـول ډول و نـه کارول سي هیـڅ مثبـت اغېـز بـه ونـه لـري او پـه (Rational expectation) معتقـد دي.
مـالي او پـولي سیاسـتونه پـه خپلـو کې ډېـري نـږدې اړیکي لـري، چـې معقـول او همغـږی تطبیق ئـې د اقتصـادي ثبات لـه پـاره ډېـر مهـم دئ، هـو ځینـي وخـت دا سیاسـتونه یو د بـل متضـاد هـم واقـع کیـدلای سي؛ لکـه: د انقبـاضي مـالي سیاسـت پـر مهـال د انبسـاطي پـولي سیاسـت تطبیقـول، پـه مـالي سیاسـت کـې هڅـه کېـږي، چـې مـالي ثبـات وسـاتل سي، مـالي ثبـات داسي حالـت تـه ویـل کېـږي، چـې هلتـه مـالي سیسـتم دا تـوان لـري، چـې خپـلي دنـدي پـه اسـاسي شـکل سرتـه ورسـوي، پـه پـولي سیاست کـې هڅه کېږي، چې پـولي ثبات وسـاتل سي.
دلتـه پـولي او مـالي سیاسـتونه پـه لنـډه توګـه پېژنـو:
پـولي سیاسـت: عبـارت لـه هغـه سیاسـت څخـه دئ، چـي د مرکـزي بانـک لـه خـوا د پیسـو د عرضـې او پیسـو د ثبـات سـاتلو پـه موخـه پلی کېـږي، چې د پـولي سیاست هـدف تـر ډېـره حـده د پیسـو د یـوې ټـاکلي انـدازې او د مـلي اقتصـاد د ټولـو برخـو مجموعـي تعـادل تأمینـوي.
یـا پـولي سیاسـت د یـوه دولـت او یـا د هغـه اړونـد دولـت مرکـزي بانـک یـوه سلسـله اداري فعالیتونه دي،چـې د هغې پـه نتېجـه کې د پیسـو د ارزښـت سـاتلو او برقرارولـو دنـده پـه غـاړه لـري؛ ترڅـو د دې پالیسـی پـه مټ خپـل مشـخص اهـداف لاس تـه راوړي او هغـوی تـه خپـل ځـان ورسـوي؛ لکـه؛ انفلاسـیون، د تبادلـي نـرخ سـاتل، بشـپړ اسـتخدام تـر لاسـه کـول او بالاخـره اقتصـادي وده او پرمختیـا رامنځـه تـه کـول.
پـه پـولي سیاسـت کـې تـر ډېـره د بحـث محـوري موضـوع د پیسـو عرضـه، تقاضـا او د همـدې پیسـو ټیـکاو سـاتل دي، چـې انبسـاطي او انقبـاضي سیاسـت ئـې مهـم او مشـهور ډولونـه دي.
مګـر دواړه سیاسـتونه یـوه سلسـله مشـترکات لـري، چـې بایـد پـه همغـږی تطبیـق سي.
مـالي سیاسـت: د حکومتـي لګښـتونو او مالیاتـو لـه لاري د مجموعـي عرضـې او تقاضـا لـه کنټرولولـو څخـه عبـارت دئ، یـا د دولـت لـه خـوا د مالیاتـو او دولتـي لګښـتونو تـرسره کـول دي؛ تـر څـو مشـخص اقتصـادي اهـداف؛ لکـه: د بیـو ثبـات، بـې کاري کمـول او اقتصـادي وده رامنځتـه کـړي او لـه همـدې طریقـه د هیـواد مـلي اقتصـاد مدیریـت کـړي، چـې یـاد سیاسـت هـم دوه مشـهور ډولونـه (انقبـاضي او انبسـاطي مـالي سیاسـت) لـري.
دا هغـه لومړنـی او عامـي خـبري وې. مهمـه دا ده، چـې د دواړو سیاسـتونو پـه تـړاو پـوه سـو او وګـورو، چـې ایـا یـاد سیاسـتونه یـو د بـل بشـپړوونکي دي او کـه یـو د بـل پـر وړانـدي تقابـلي سیاسـتونه دي، بلـه مهمـه خـبره دا ده، چـې پـه دې پـوه سـو، چـې د هیـواد د اقتصـادي ودې لـه پـاره بایـد هممهالـه لـه کـوم ډول مـالي او پـولي سیاسـتونو څخـه کار واخیسـتل سي، بلـه مهمـه موضـوع دا ده، چـې پـه ورتـه وخـت کـې بایـد کـوم ډول مـالي او پـولي سیاسـتونه ونـه کارول سي؟
معمـولاً پـولي او مـالي سیاسـتونه د یـو بـل مرسـتندوی سیاسـتونه دي، دولـت یـوه سلسـله مشـخص اهـداف د مالیاتي سـتراتېژیو او پولي سـتراتېژیو په مټ تر لاسـه کوي.
راځـم عمـلي بېلګـو تـه؛ مثـلا: دولـت غـواړي، چـې پـه هیـواد کـې بشـپړ اسـتخدام رامنځتـه کـړي، هممهالـه دولـت خپـل لګښـتونه زیاتـوي، مالیـات کمـوي؛ تـر څـو تصـدۍ وتوانېـږي زیـات تولیـد وکـړي او زیـات تولیـد د زیاتـو کارګـرو ایجـاب کـوي، یـا پـه خپلـه د معاشـاتو ورکـړه د دولـت لـه پـاره لګښـتونه دي، مانـا پـه دې حالـت کـې دولـت لـه انبسـاطي مـالي سیاسـت څخـه کار اخـلي او پـه ورتـه وضعیـت کـې بایـد دولـت د انبسـاطي پـولي سیاسـت څخـه کار واخـلي، مرکـزي بانـک بایـد د پیسـو عرضـه زیاتـه کـړي او د قـرض ورکـړي نرخونـه بایـد ټیـټ کـړي؛ ترڅـو پانګـوني ته پـه پراخـه کچـه زمینه برابـره سي.
او کـه مثـلاً: دولـت وغـواړي انفلاسـیون، چـې یـوه اقتصـادي سـتونزه او اقتصـادي ناروغـي ده مخـه ئـې ونیـسي؛ نـو پـه دې حالـت کـې لـه انقبـاضي پـولي سیاسـت Contractionary Monetary Policy)) څخـه کار اخـلي، مانـا د پیسـو عرضـه کمـوي د پـور اسـانتیاوي کمـوي، د پـور اخیسـتلو شرایـط او نرخونـه لـوړوي، چـې پـه پایلـه کـې پـولي ثبـات رامنځتـه کېـږي، د خلکـو د خریـد تـوان ورسره ښـه کېـږي او د اجناسـو نرخونـه ټیټېـږي؛ نـو پـه دې حالـت کـې بایـد لـه انقبـاضي مـالي سیاسـت څخـه کار واخیسـتل سي هغـه پـه دې مانـا، چـې د حکومتـي لګښـتونو د کمولـو او مالیاتـو د لوړولـو لـه لاري بایـد د مجموعـي تقاضـا کچـه راټیټـه سي؛ څـو وکـولای سي د قیمتونـو د چټـک زیاتـوالي مخنیـوی وکـړي.
همدارنګـه، کـه اقتصـاد د رکـود پـه حالـت کـې وي او دولـت وغـواړي، چـې دا وضعیـت بـدل کـړي؛ نـو انبسـاطي مـالي سیاسـت غـوره کـوي (مـصرف زیاتـوي) او مرکـزي بانـک هـم انبسـاطي پـولي سیاسـت پلـی کـوي او اقتصـادي ودې تـه سرعـت وربښـي.
مګـر کلـه نـا کلـه دا دواړه سیاسـتونه متضـاد هـم واقـع کیـدلای سي، هغـه پـه هغـه صـورت کـې، چـې پالیـسي جوړوونکـي پـه خپـل منـځ کـې همغـږي نـه وي تـاوان ئـې ولـس او دولـت دواړو تـه متوجـه دئ.
مثـلاً: دولـت انبسـاطي مـالي سیاسـت اختیـاروي( لګښـتونه زیاتـوي) او پـه عیـن حـال کـې مرکـزي بانـک د انفلاسـیون لـه وېـري د پـور ورکـړي نرخونـه لـوړوي او یـا د پیسـو نـشر مطلـق بنـدوي نـرخ( انقبـاضي مـالي سیاسـت) پـه دې حالـت کـې دا متضـاد سیاسـتونه د ګټـې پـر ځـای تـاوان کـوي او د مـالي سیاسـت اغېـز کمـوي.





# اعلانات داوطلبی

**علان داوطلبی**

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه (۷) باب دوکان واقع بلاک A و B شهرک البرز مربوط ناحیه (۱٦ ) شهر کابل را به شکل آفر سر بسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد، به مدت(۲) سال.

۱. دوکان نمبر (۱) به مساحت(٤٤,۲) مترمربع واقع شهرک البرز مربوط بلاک A به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۵۳۷۱) افغانی.

۲. دوکان نمبر (۳) به مساحت(٤۳,۲) مترمربع واقع شهرک البرز مربوط بلاک A به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۵۲۳۷) افغانی.

کوردینات ( جی.پی.اس) ٦۹,۲۰۳۵٤-۳٤,۵۲۱۹۳

۳. دوکان نمبر(٦و۷) به مساحت (٦۳) مترمربع واقع شهرک البرز بلاک B به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۷٦۵۵) افغانی.

٤. دوکان نمبر(۸) به مساحت (۲۳) مترمربع واقع شهرک البرز بلاک B به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۲۷۹۵) افغانی.

۵. دوکان نمبر(۹) به مساحت (۱۷,۹۸) مترمربع واقع شهرک البرز بلاک B به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۱۸۵) افغانی.

٦. دوکان نمبر(۱۰) معه اطاق، دهلیز، آشپزخانه و تشنابیه مساحت (۷۷,۱) مترمربع واقع شهرک البرز بلاک B به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۹۳٦۸) افغانی.

۷. دوکان نمبر(۱۱) به مساحت (۱۹,۵) مترمربع واقع شهرک البرز بلاک B به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۲۳۷۰) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲۰۲۹۸ -۳٤,۵۲۱۷۸

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ ۴/۷/ ۱۴۰۴ الی۲۷/ ۴/ ۱۴۰۴ به مدت (۲۱) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس:سینما پامیرتعمیر۱٤منزله،منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤ - ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷

تاریخ مجلس داوطلبی: ۴/۲۸ / ۱۴۰۴ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

**اعلان داوطلبی**

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه ۳ باب دوکان واقع ظاهر شاهی مارکیت و ۳ باب دوکان مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل را به شکل آفر سر بسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد، مدت ( ۲) سال.

۱.یک باب دوکان نمبر ۵۹مساحت ۱۰,۲۰مترمربع واقع مندوی کابل مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۸۵۰۰۰) افغانی.

۲.یک باب دوکان نمبر ۷۱ مساحت ۱۰,۱۸مترمربع واقع مندوی کابل مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ٦۵۰۰۰) افغانی.

۳.یک باب دوکان نمبر ۷۲ مساحت۱۰,۱۸مترمربع واقع مندوی کابل مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ٦۰۰۰۰ ) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۲٤ ۳٤,۵۱۷٤۱

٤. یکباب دوکان نمبر۱۲٦ به مساحت۵,۵۱مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۷۷۰٤ ) افغانی.

۵.یک باب دوکان نمبر۱۱۸ به مساحت ۵,۷مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ )۱۹۳۳۰) افغانی.

٦. یک باب دوکان نمبر۱٦۱به مساحت ۱۲,٦۱مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۵۰۳۳) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ٦۹,۱۷۷۵٦ - ۳٤,۵۱۷۱

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ ۹/ سرطان/ ۱۴۰۴ الی ۲۹/ سرطان/ ۱۴۰۴ به مدت (۲۱) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیرتعمیر۱٤منزله،منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤ - ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷

تاریخ مجلس داوطلبی: ۳۰/سرطان / ۱۴۰۴ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

**اعلان داوطلبی**

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه دوکان نظیف مارکیت واقع کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می پسارد، مدت(۲) سال.

۱.دوکان نمبر A۱۰۸ بمساحت ۱۱,۱ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۰۰۰) افغانی.

۲. دوکان نمبر A۱۰۹ بمساحت۱۱,۱مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۲۰۰۰ ) افغانی.

۳.گدام بنام نمبر D۱۰الی D۱۲ بمساحت ٦۷,۵ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۱۹٤۰) افغانی.

٤.گدام بنام نمبرD۹ بمساحت ۱۸ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۱۸٤) افغانی

۵.دفتر بنام نمبر B۱٤۰بمساحت ۱٦۰ مترمربع بنام دفاتر اداری، تشناب ها و آشپز خانه واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۸۳۰۲) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,۵۱۵۲۷۲

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ ۹/ سرطان/ ۱۴۰۴ الی ۱۵/ سرطان/ ۱۴۰۴ به مدت (۷) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر۱٤ منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز،

شماره تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤)،

تاریخ مجلس داوطلبی: ۱٦/ سرطان/ ۱۴۰۴ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسئول مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکسپاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)

د محرم الحرام ۵ -۱۴۴۷ل س | د چنګاښ ۱۰ -۱۴۰۴ل ل | د جولای ۱-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۴۴ ګڼه | ٤ مخیزه


## MoF Leads 5 Key IEA – Ministers, 6 Other Bodies for Important Decisions on Tariffs of Numerous Items to Promote Domestic Industry

The third meeting of the 'Tariff Committee' for the current year 1404 (Afghan Calendar) was held under the chairmanship of the Minister of Finance, Alhaj Mullah Mohammad Naser Akhund, and with the participation of the ministers of the Industry and Commerce; Agriculture, Irrigation and Livestock; Mines and Petroleum; Economy and Public Health; the authorized representative for the DM of Economic Affairs of Prime Ministership, the Directors of the General Directorate of Intelligence, the National Standards Authority, the Chambers of Mines and Industries, Commerce and Investment; and Agriculture and Livestock.

After comprehensive discussions in this meeting, decisions were made in accordance with the principle of supporting domestic industry, agriculture and trade growth, which will be implemented based on the principles of the tariff.

| NO | Items | Previous Tariff | New Tariff |
|---|---|---|---|
| 1. | 5 – 8mm Rebar | 16% | 30% |
| 2. | Cotton for Medical Purpose | 3.5% | 20% |
| 3. | Pampers and Kotex | 10% | 20% |
| 4. | Pressed paint | 16% | Not Changed |
| 5. | Footwear | Leather 10%, Plastic 20% | Leather 20%, Plastic 30% |

Likewise, reforms were also made to the tariff codes for chains and glass, and porcelain tableware.

**Notably**, the meetings of the 'Tariff Committee' were previously held at the level of deputies. However based on the special guidance of HH Amir al-Momineen (may Allah protect him), from now on, considering the importance of the decisions of the said committee, they will be held at the level of ministers and directors of independent bodies.

## Deputy Minister of Customs, Revenues Discusses Crossing Issues with General Chief of Border Police

Deputy Minister of Customs and Revenues of MoF, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed, met with the General Chief of Border Police, Ministry of Interior Affairs, Alhaj Maulawi Hizbullah Afghan. In this meeting, which was also attended by the General Director of Customs, Alhaj Maulawi Mohammad Hamid Ahmad, both sides discussed the providing of necessary facilities for travelers at the borders of Afghanistan, preventing contrabands, establishing the necessary coordination and cooperation in these areas, and numerous of other related issues.

## Islam Qala Customs' Staff Nabs 14.2 tons of Prohibited Drugs, Nets Smugglers

The intelligent staff of Islam Qala Border Customs in Herat Province detected 4,107 cartons of prohibited drugs called Methadone, with a total weight of 14.2 tons in an imported shipment. "The prohibited medications were skillfully embedded in an imported commercial shipment containing macaroni, as the smugglers intended to smuggle the aforementioned amount of contrabands into Afghanistan", the staff added.

It is worth noting that two people were arrested on this charge, and handed over to the relevant security organs for further proceedings.




## افغانستان په (۱۳۰) برخو کې د بشپړې ځانبسیاینې اعلان وکړ او لا هم د نورو پرمختګونو په تلاښ کې دئ




د شینوا ـ Xinhua او چاینا.اُورګ. سي اېن ـ china.org.cn په نوم دوو چینې رسنیو د افغانستان د ځانبیسیاینې په تړاو راپورونه خپاره کړي دي. د یادو چینې رسنیو په راپورونو کې د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء د اقتصادي معاونیت په حواله راغلي دي، چې افغانستان په (۱۳۰) برخو/ سېکتورونو کې بشپړه ځان بسیاینه ترلاسه کړې ده؛ لاکن په (۱۰۰) نورو سېکتورونو کې ئې د جزوي ځانبسیاینې خبره ذکر سوې ده. ورپسې د صنعتي ودې په باره کې دا ټکی ور علاوه کوي، چې وايي شاوخوا (٦,۰۰۰) صنعتي کارخوني/ فابریکې په رسمي ډول په ګرد افغانستان کې فعالیت کوي. یادي نړیوالي رسنۍ د ځانبسیاینې د وضاحت له پاره نه یوازې د صنعتي کارخونو یادوَنه کوي؛ بلکې راوړي، چې په افغانستان کې د کورني تولید د ډېرښت او د وارداتو د کمښت په خاطر اوسمهال نیږې (۵۷۰) ډوله توکي تولیدېږي، چې په دې کې نو اُوړه، غوړي، مالګه، درمل، اوسپنه، سیمېنټ، پولادو/ فولاد، کیمیاوي محصولات، مصرفي توکي او نور شامل دي. په متن کې د کاري زمینې په هکله زیاتوي: «نیږدې (۱) لک او (۳۵) زره افغان وګړي په مستقیم ډول په دې کارخونو کې کار کوي.» راپورنه د متنونو په وروستۍ برخه کې د اسلامي امارت د تلاښونو په باب لیکي، چې د افغانستان اسلامي امارت د (۲۰۲۱) ز راهیسې د اقتصادي انعطاف پیاوړتیا او په افغانستان کې د محلي تولیداتو د ودې له پاره هڅې پیل کړې دي.

**افغانستان؛**

- په (۱۳۰) برخو/ سېکتورنو کې بشپړه ځان بسیاینه ترلاسه کړې ده او په (۱۰۰) نورو برخو کې جزوي ځانبسیاینه لري.
- شاوخوا (٦,۰۰۰) صنعتي کارخوني/ فابریکې په رسمي ډول فعالیت کوي.
- په کارخونو کې اوسمهال نیږې (۵۷۰) ډوله توکي تولیدېږي.
- نیږدې (۱) لک او (۳۵) زره افغان وګړي په مستقیم ډول په افغان کارخونو کې کار کوي.

### د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



### د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټیلفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/ ۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰ / ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af

شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.